:

# د پښتو ځيني نوی موندل سوي کلمات

په هغو كلماتو كښي چي اوس له پښتو سره نـږدې دي، د پاړسـو د (ميهن) كلمه ده د وطن او د استوګني د ځاي په معنى. په لغـت فـرس كښي راوړي "خانمان ووطن وزاد خويش وگروهي بود." (۱)

مثالونه فردوسي وايي :

که چون تو برين جاي مهمان رسد
بدين بينوا ميهن ومـــــــان رسد

عنصري وايي :

بگريند مر، دوده ميهنـــــم
كي بي سر ببينند خستـه تنم

ددې كلمې ريښي د ځينو ښارونو په نومو كښي هم پاته دي، لکه ميهنه (د خراسان ښار) خرميثن (خورشـيد مـيهن، د بخـارا كلـي) خشـميثن (د خيوابښار) كشميهن (د مرو يوه كلا) او نور. (۲) پورداؤديو اوسـنی محقق ددې پارسي كلمې اصلي اشكال په اوستا اوپهلوی ژبو كښـي پـه

لاندي ډول شرح کوي : د ميهن کلمه په اوستا کښي مئتهنه Maethana يا مئتهنيا Maethanya وه چي د اوستا په ټولو ټوکو کښي لکه يشت، ونديداد، يسنا دا کلمه راغلې ده، او معنا ئې هم وطن او مسکن ده. (۳)

د پارسي کوم کلمات چي د اوستا څخه د پهلوي ژبي له لاري راغلي دي، د هغو کلماتو پر قواعدو باندي برابر، د اوستا مئتهنه بايد ميهن سي، په دې ډول :

۱. ميهن په مجهوله ياء ـ که څه هم اوس په پارسو کښي د مجهولي او معروفي ياء فرق نسته مگر پخوا وُ، د اوستا مکسور همزه (e) چي پسله مفتوح ميمه راغلی دی، په مجهوله (ې) تبديلېږي لکه :

د اوستا : دايوه daeva د دری ديو ( په پښتو : دېب )

د اوستا : داينا daena د دری دېن ( دا کلمه سامي ريښه نه لري آريايي ده)

د اوستا : مئغه maegha (د دری مېغ (ابر)

۲. د اوستا يوحرف (ته th ) په دری کښي کله په (ه) اوړي لکه :

داوستا : ميتهره mithra د دری مهر (د پښتو مېر ، لمر)

داوستا : چيتهره chithra د دری چهره (د پښتو څېره)

۳. د اوستا د مئتهنه اصلي ريښه مئت meat ده چي معنا ئې په پارسوجاي گزيدن او ماندن ده (۴) او د پښتو ميشت misht يعني ساکن او ځايي هم له دغي ريښې څخه دي.

۴. په پهلوي کښي د اوستا مئتهنه په مهن mehan واوړل سو (۵) او په ځينو ځايو کښي (مان) Man او خانک سو (۶) چي د پارسي ژبي

خانمان هم له دغي ريښې څخه دی او معنا ئې هغه وطن اود پښتو (مېنه) ده.

۵. په سنسکريټ کښې هم منديره mandira د کور او خانه په معنا راغلې ده او دا کلمه د اوستا د (مئتهينا) پرځاي په سنسکريټ ترجمه کښې استعمال سوې وه (۷) چي لومړی جز ئې هغه (مان) او دوهم جز ئې د پښتو (دېره) ده.

***نتيجه*** :

لکه چي لوړ مو وليدل د اوستا مکسور همزه (ae) په مجهوله (ې) اوړي، لکه daeva چي دېو ( دپښتو دېب) سو، او بيا (ته th ) هم په پارسو کښې (هـ) او په پښتو کښې مجهوله (ې) سو، لکه chithra چي (څېره) سوه نو د اوستا مئتهنه mathma هم په پښتو کښې ( مېنه) په مجهوله (ې) تر اوسه پاته ده، چي د پهلوي مهن او د پاړسو (ميهن) او (مان) له دغي ريښې څخه دي، او (مېنه) تراوسه هم په پښتو کښې وطن، اقامتگاه، کور، خانمان ته وايي، مثلاً : مېنه دي ورانه سه ! احمد چيري مېنه کړې ده؟ (۸)

دپښتو لنډۍ ده :

مېني سپېري کډي ئې بار سوې
جانان به چرته مېنه کا، ميني به کړينه؟

په دې لنډۍ کښې مېنه (وطن، اقامتگاه) او مينه (محبت) دواړه راغلي دي او فرق ئې ښه معلومېږي.

## اوبه – آبان :

په اوستا کښي آپ ap په سنسکریټ کښي آپه apa په زړه پارسي (فرس) کښي آپي api په پهلوي کښي آپ، په پښتو کښي اوبه په اوسنی پارسي کښي آب او د پارسي په ځینو لهجو کښي آو او یو مشترک نوم دی. د اوستا آفنت afant د پهلوي آپومندapomand د پارسي آوند (ظرف) د سنسکریټ آپونتapavant یعني اوبلن له دغي ریښې څخه دي.

په اوستا کښي دکال اتمه میاشت یعني عقرب (آپان) نومېده، چي د پخوانو آریائیانو په اصطلاح د هغي پرښتې نوم ؤ چي د اوبو موکله وه، دا نوم تر ځلوېښت واره زیات په اوستا کښي راغلې او د ژبي پر قدیمو اصولو برابر د آپ جمع ده په (ان) سره چي پر دغه قاعده برابر پخوا ډېر کلمات په (ان) جمع کېده لکه : روزان، شبان، آتشان، سوگندان، اندوهان او نور... په پهلوي کښي آپان ډېر ذکر کیږي لکه : چشمک آپان، (داوبو چینه) خان آپان (داوبو کان ) (۹)

په دې ډول د اوستا او پهلوي او سنسکریټ او فرس قدیم ډېر کلمات د اوبو له مادې څخه جوړ سویدي، او دغه ماده د ډېرو ځایو په نومو کښي سته، لکه د هرات اوبه، چي منسوب ئې اوبهي ؤ، یا (اوبه تو) چي اصلاً اوبه تون ؤ یعني د اوبو ځاي او په دغه نامه تراوسه یو ځای دکندهار شمال ته د تیري اوروزگان تر منځ سته، او بل ځاي دکوړک د غره په لمن کښي له چمنه (۳۰) میله لیري په دغه نامه پاته دی.

## بهمن _ وهومنه :

په اوستا کښي دکال یوولسمه میاشت (دلو) ده چي د پخوانو آریایي خلکو په عقیده یوه پرښته وه چي دګتورو چارپایانو ساتنه ددې کار ؤ،

او دا نوم دوې برخې لري : وهو vahu او منه manah اول جز وهو پـه فرس قدیم کښي هم وهو vahu ؤ په سنسکریټ کښي وسـو vasu او پـه پهلوي کښي وه vah په پارسي کښي به bah دی. دوهم جز ئې په اوسـتا کښي منه په سنسکریټ کښي مـنس manas او پـه پهلـوي کښـي منشـن menishn او په پارسي کښي (منش) دی چي دغه کلمـي د یـوې ریښـې څخه راوتلي دي او هغه من man ده من په فرس قدیم او اوستا کښي د اندیشیدن او شناختن او بیا د آوردن معاني لري، چي په انګلیسي کښـي to mean او په الماني کښي meinen دی. په پارسي کښـي عینـاً د پښتـو قدیمه معنی لري لکه چي فردوسي وایي :

سرش سبز بادا تنش ارجمند
منش برگذشته ز چرخ بلنـــــد

چي اصلاً (من اش) دی، بل شاعر قریع الدهر وایي :

یار همچون روح حیواني ومثل مردمک
گه میان درآید گاه اندرچشـــــــم من

د یوولسیم میاشتي نوم وهومنـه پـه پارسـي کښـي بهمـن او پهلـوي کښي وهومن vohuman سو، یعني به منش. (۱۰)

اوس به ددې کلمې دواړي برخې په پښتو کښي مطالعه کـو : اولـه برخه وهو یعني ښه ، (اوس په وا، واوا) کښي پاته ده چي د کوچنـو پـه ژبه کښي د (ښه) معنی لري مثلاً : کوکو- واوا یعنـي ښـه او خـوښ، یـا (وه) چي د تعجب او تحسین پر ځاي استعمالیږي. او بـل هـم (هـو) ده چي په پښتو کښي د تصدیق اوتحسین پر ځاي راځی او هغه (ښه) معنـا لري. دوهم جز ئې هغه (من) دی چي منل، منه، منښت، من له دغـي ریښې څخه تراوسه پاته دي چي دمخه ئې بیان تیر سو.

**میږ ـ پسه :**

په پارسي کښي پسه ته گوسفند وايي، چي دا کلمه په اوستا کښي گئوسپنته gaospenta وه، په پهلوي کښي گوسپند سوه، او دا نوم پر ټولو اهلي او مفیدو جانورانو اطلاق کېدی. د پسه خاص نوم نه ؤ لومړی ماده ئې گئو gāo ده، يعني غوی او دوهم جز ئې سپنته دی، چي د پښتو (سپین) له دغي ريښې څخه دی. له دې جهته د پارسي گوسپند د پسه حقيقي نوم نه دی، بلكي په اوستا كښي مئشه maesha هم وه، چي د پښتو (میږ) او د پارسي (میش) له دغي ريښې څخه اصلي کلمات دي، اما د پښتو (پسه) هم خورا قدیمه کلمه ده، چي په اوستا کښي پسو pasu وه، او پر هر کوچني اهلي حیوان دا کلمه اطلاق کېده دا کلمه fshu فشو هم وه، چي په لاتيني کښي pecus وه، (۱۱) او د پښتو (پیشو، پیشي = گربه) له دغي ريښې څخه دي.

**سپی :**

څكه چي سپی د کور او رمو د ساتني لپاره یو مفید حیوان وو، نو په قدیمو آريائيانو کښي دا حیوان ماءنوس گڼل کېدی، او ددوی په ژوندانه کښي ورسره محشور ؤ، په اوستا کښي سپن span په سنسکريټ کښي سون svan ؤ ، ياقوت حموي ليکي : چي د اصفهان نوم له اسباه څخه جوړ سويدی چي معنا ئې سپاه يا سپی دی، دغسي هم په اوستاکښي سون sun په ارمني کښي شون shun د سپی معنا لري، په اوستا کښي سپکه spaka سگ مانند، او په فرس قدیم کښي سکه saka يا سپکه spaka او په مادي ژبه کښي سپکو spako او په روسي کښي سباك sbaka د سپی نومونه دي. (۱۲) او د پښتو ژبي سپی (مذكر) او

سپی (موئث) او نور صفات لکه : سپیتانه او سپیتوب هم له دغي قدیمي ریښې څخه دي.

## زیرگی ـ جرگی ـ ژوژک :

په پښتو خارپشت زیرگی ، یا جرگی بولي، اودا نوم له (زیږ = زیگ) څخه جوړ سویدی. د اوستا په وندیداد (۲برخه) کښې دا نوم دوژکه dujaka راغلی، او په پهلوي ژوژک jujak او په پارسي کښې ژوژه سو (۱۳) چې ماده ئې هغه پښتو ته نژدې ده او دا نوم په پهلوي کتابو کښې ډېر ذکر کیږي.

## آس ـ اوسی :

دا کلمه په اوستا او فرس قدیم کښې اسپه aspa وه چې اصلي ماده ئې اسپا aspa یا اسپي aspi وه په سنسکریټ کښې اسوه asva ویل کېده، په لاتیني کښې equus وه، ددې کلمې اصلي ماده په آریایي ژبو کښې اک ak ( = اس as) ده چې د تند تگ معنا لري، په اوستا کښې اسواسپه asuaspa او د سنسکریټ اسواسوه asuasva د تند او چالاک آس لرونکي معنی درلوده، د ماد د یوه پاچا نوم ایسپباره ispabara وو، یعني آس وړونکی (۱۴) چې د پهلوي اسپوار aspavar یا اسبار asabar یا اسپبارک aspabarak یا اسوار asvar ( جمع : اسواران) له دغي ریښې څخه دي او عربو دا کلمه په اساوره سره جمع کړه (۱۵) د پښتو آس (نر) اسپه ( ماده) دواړه دغه ریښې لري، او خپل قدیم اصالت ئې تر اوسه ساتلی دی. دا خبره تاسي ته ښکاره سوه، چې اساساً په اوستا او سنسکریټ کښې د (اس) ماده د تندۍ او چالاکۍ په معنی وه، (س) او (ه) هر وخت سره اوړي لکه : ( هوما - سوما ) د

پهلوي ژبي آهوک ahuk او د پارسي آهو هم له دغي ريښې څخه دي. څکه چي دا حيوان ډېر چابک او تېز رو دی، اودا نوموونه د آسو asu له ريښې څخه راوتلي دي، چي په اوستا او سنسکريټ کښي د تند او چست او تېزرو معاني لري (۱۶).

اوس تاسي ددې قديمې ريښې مظاهر په پښتو کښي وگورئ :

آس (اسپ نر) اسپه ( ماديان) اوسۍ ( آهو) اوسېلل ( تنفس تيز ودراز) چي دا ټوله کلمات هغه قديمه ماده (آس) لري، او خاص بيا ( اوسۍ _ هوسۍ) پر هغه قديم ډول پاته ده، او آس يا اس يا اسپه هم پر خپل اصالت باقي دی.

## اسپست _ اشپيشته :

اسپست (اسفست) هغه واښه دي، چي اوس ئې په پارسي رشقه يا يونجه بولي او دا واښه پخوا معروف وُ، د آريايي مځکو مخصوص گياه گڼل کېده، په پهلوي ژبه هم اسپست وُ لکه چي په پهلوي کتاب اردشير پايکان کښي چي ذکري کيږي، ددې کلمې قديم شکل اسپسته aspesta وُ، چي په سرياني کښي pespesta سو او د ابن دريد عربي ليکوال په قول ( څلورمه هجري پيړۍ) دا کلمه معربه او فصفصه سوه، چي جمع ئې فصافص ده (۱۷) د پارسي ژبو په مازندراني لهجو کښي تراوسه هم اسپست د شپيشتي په معنی باقي ده، چي مخفف ډول ئې اسپس يا سپست دی بسحاق اطعمه وايي :

نخوردي يک شکم اسپست هرگز
چرا گاهت بود صحرای پرخار (۱۸)

دا کلمه تر اوسه هم د کندهار په پښتو شپشـته (سپسـته) پاتـه ده چـي کټ مټ هغه قديم رنګ لـري، فقـط ځينـي خلـك ئـې (س) پـه (ش) اړوي.

## سينه ـ شئين :

عقاب يا شاهين ( جمع معرب : شواهين) په پخوانو آريائيـانو کښـي يو معروف مرغه وُ، په اوستا کښي دوه وار سـينه seana راغلـی دی (۱۹) چي د اروپا اوستاشناسانو په eagle ترجمه کړی او په سنسـکريټ کښـي هم سينه syena دی.

پـه اوسـتا کښـي کـوه بابـا ـ او پـائيري سـينه upairi-saena ذکـر سويدی، يعني د شاهين تر الوتو لوړ په بندهش کښي وايي : اپارسن تـر البرز ورتيرلوړ غر دی، چي سر ئې په سکستان او پای ئې پـه خوزسـتان کښي دی (۲۰) بل ځـای وايـي : هـري رود لـه اپارسـن څخـه راوزي، هلمند چي په سکستان کښي روان دی هم له اپارسن څخه راوزي، مرو رود هم له اپارسن څخه راځي د بلخ رود هم له اپارسن څخه په باميکان (باميان) کښي راوزي ... (۲۱)

مارکوارت وايي : چي اوستا اوپـائيري سـينه او د پهلـوي اپارسـن د هندوکُش غربی برخه يعني دکوه بابـا سلسـله ده (۲۲) چـي د فردوسـي دغه تعبير کټ مټ د هغه قديم تعبير ترجمه ده :

يک کوه بيني سراندرسحاب
که بروی نپريد پران عقـــاب

دا قديمه کلمه ( سينه) په پارسي کښي شاهين سوه، او پـه پښتـو کښـي شئين (shaen) ده د شئين نوم تراوسه هم پښتانه پرزامنو ږدي، او لکـه چي دا رسم پخوا هم وُ، يو اروپايي مستشرق جستي تقريباً (۲۲) نومونه د

پخوانو پهلوانانو په ارمنی او تورکی او عربي کښي يادوي (۲۳) په شهنامه کښي د کابل د پاچا مهراب د لور نوم سيندخت ؤ، چي لومړی جز ئې هغه سين – شئين او دوهم جز ئې دخت دی. يعني دشئين لور. فردوسي وايي :

بپوسيد سيندخت مهراب را
زخونشاب بکشود عناب را

د اوستا په فروردين يشت کښي هم د خلکو او کورنيو نومونه ( سئين – شئين) دی ( ۲۴) نو د اوستا سئينه او د سنسکريټ سينه وروسته سئين سو، چي د پښتو (شئين) عيناً هغه قديم رنګ لري او د پارسو شاهين هم له دې کورنۍ څخه دی، او لکه ګيګر مستشرق چي ليکلي دي په واخي ژبه کښي چي د پښتو يوه څانګه ده (۲۵) دا کلمه شايين shain پاته ده.

## باز ـ باښه ـ وزر ـ لوزی :

ددې کلماتو قديمه ريښه وزه vaza ده د وز vaz له مصدره چي په اوستا کښي د الوتلو او پريدن په معنا وه، باز ( عربي جمع : بيزان، ابواز) په پښتو او پارسي کښي د يوه مرغه نوم دی چي د علم په ډول هم پر سرو اېښو کيږي، بازو، بازک ، بازکوي ددې کلمې مصغر اشکال او د خلکو نومونه دي. باښه په پښتو اوپهلوي واشه، واشک ( معرب : واشق) هم له دغي ريښې څخه جوړه سوې کلمه ده (۲۶) د پښتو وزر ( پر) او الوزل مصدر چي فعل حال ئې الوزي دی هم دا ريښه لري، بزبز، او بزېدل چي د حشراتو پرواز دی، او د پارسي وزيدن ( باد الوتل) ټوله دغه کلمات هغه د اوستا قديمه ريښه ( وز ـ بز ـ باز ـ واز) لري.

**چرګ :**

**په اوستا کښي د چـرګ نـوم ګهر کتـات kahrka-tat دی، چـي د اسم په ډول د چرګ له آوازه دا نوم جوړ سويدی، لکه دپښتو کړ کـړ ـ کړهار ـ کتهار چي اسمايي اصوات دي، د اوستا په پهلوي تفسير کښـي دا نوم کرک kark سو، او په پارسو کښي هم دغه لغت چرګـه ده چـي پر اګيو ناسته وي ( لغت فرس اسدي ) دغه کلمه په پښتو کښـي چـرګ (مـذکر) او چرګـه ( موئـث) او چرګـان او چرګـي ( جمـع) تـر اوسـه پاته دي. (۲۷)**

## لمن لیکونه


۱. لغت فرس اسدي طوسي ، ص ۳۶۰
۲. فرهنګ ایران باستان ، ج ۱ ، ص ۱۱، ۱۲
۳. یسـنا : ۱۵،۱۶ فصـل ، مهریشـت ۳۸ ، ۴۴، ۵۰ ، ۸۰ فصـل ، فروردین یشت ۶۷ فصل ، وندیداد ۴، ۱۹ ، فرګرد دي وکتل سي.
۴. فرهنګ ایران ، ج ۱، ص ۴
۵. زند، وندیداد ، ۴ فرګرد اوله برخه
۶. یسنا ، ۱۰ اوومه برخه
۷. د هوم یشت سنسکریټ ترجمه، ص ۵۹ _ ۱۵۴
۸. مینه په معروفه (ي) د محبت معنی لري، او مېنه په مجهوله (ې) وطن او کور او قامتګاه ته وایي . لکه دا متل : مینه ژاړي که وینه.
۹. فرهنګ ایران ، ج۱، ص ۶۹
۱۰. په آریایي نومو کښي دا ریښه سته، لکه د بیستون په کتیبـه کښـي چي هخامنش hakha-manish راغلی دی، هخا په اوسـتا او فـرس قدیم کښي د دوست معنا لري، یعني دوست منش یا اردومنش یعني راست منش چي په دغه کتیبه کښي ذکر سـویدی. دغسـي هـم پـه اوستا کښي اک مـنش aka-monish چـي د بهمـن رقیـب دی، د بدمنش معنا لري، ځکه چي اک aka زشت، بـد، آسـیب، ګزنـد دی ( فرهنګ ایران، ج ۱، ص ۷۲ _۷۵)
۱۱. فرهنګ ایران ، ج ۱ ، ص ۲۲۶ _ ۸۰ _ ۲۱۴
۱۲. فرهنګ ایران ، ج ۱ ، ص ۲۰۷ _ ۲۰۸
۱۳. فرهنګ ایران ، ج ۱، ص ۲۱۲

۱۴. د کلمې دوهم جز بره bara د بـردن او وړلـو لـه مـادې څخـه دی، چې په پښتـو کښـې اوس (وری = بـار) پاتـه دی. نـو دا ( آس وری) یا (اسپبار) یا (سور = سپور ) له مشترکي ریښې څخه دی.

۱۵. فرهنګ ایران ، ج ۱ ، ص ۲۲۲

۱۶. فرهنګ ایران ، ج ۱ ، ۲۲۲

۱۷. فرهنګ ایران ، ص ۲۳۳

۱۸. فرهنګ نظام ، ج ۱ ، ص ۲۴۶

۱۹. اوستا : ۴۱ تهوک بهرام یشت . (۱۷) تهوک رشن یشت.

۲۰. بندهش ، فصل ۱۲ فقره ۹

۲۱. بندهش ، فصل ۲۰ فقره ۱۶، ۱۷، ۲۱، ۲۲

۲۲. ایرانشهر ، ج ۲ ، ص ۷۳

۲۳. ایراني نومونه ، ص ۲۷۴

۲۴. فروردین یشت ، فقره ۹۷ ، ۱۲۶

۲۵. ګیګر الماني معروف مستشرق دی، په خپل کتاب ص ۱۶۴ کښې واخې ژبه چې اوس پامیر او بدخشان کښې لږ لـږ پاتـه ده، د پښتـو یوه شعبه ګڼي ( د خاوري ایران تمدن)

۲۶. فرهنګ ایران ، ج ۱ ، ص ۳۱۴ ، ۲۹۹.

۲۷. کابل مجله، ۱۳۵۳ کال، دولسمه ګڼه، ۱ _ ۹ مخونه.